# د ټاکنو د لنډ مهاله کارکوونکو د ګمارنې لایحه

**اساس:**
دا لایحه د ټاکنو د قانون د ۶۶ مې مادې د ورکړل شوو صلاحیتونو پر بنسټ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا (وروسته له دې کمیسیون) وضع او تصویب شوې ده.

**موخه:**
دا لایحه د ټاکنو دلنډ مهاله کار کوونکو د ګمارنې اړونده چارې د لاندې ټاکنو لپاره تنظیموي:
۱. ولسمشرۍ ټاکنې.
۲. ولایتي شوراګانو ټاکنې.

**د ټاکنو لنډ مهاله کارکوونکي**
**لومړۍ ماده:**
د ټاکنو لنډ مهاله کارکوونکي د هغه کسانو څخه عبارت دي چې د یوې ټاکلې مودې لپاره د ټاکنیزو کارونو د ترسره کولو په موخه د کمیسیون له خوا د ټاکل شوي مزد په بدل کې د تړون په لاسلیک کولو سره په کارونو ګمارل کیږي.

**د ټاکنیزو کارکوونکو ګمارل**
**دویمه ماده:**
۱. د ټاکنو کارکوونکي د هغو اوصافو او شرایطو په پام کې نیولو سره چې په دې لایحه کې یې وړاندوینه شوې ده د کمیسیون د دارالانشاء په واسطه په دندو ګمارل کیږي.
۲. کمیسیون هڅه کوي چې د ټاکنیزو بهیرونو په بېلا بېلو پړاوونو کې د ښځینه کارکوونکو د ګمارنې په موخه اړین شرایط او آسانتیاوې برابرې کړي.
۳. د کمیسیون دارالانشاء کولای شي چې کاري شرایط په داسې ډول تنظیم کړي چې د ټاکنو په بېلا بېلو بهیرونو کې معلولین د دوی د کار د فزیکي توان په پام کې نیولو سره وګمارل شي.
۴. باید د ټاکنیزو کارکوونکو په ګمارنه کې د وړتوب، توکمي توازن او جنسیت اصل په پام کې ونیول شي.

**اوصاف (ځانګړتیاوې) او شرایط**
**دریمه ماده:**
(۱). باید ټاکنیز کارکوونکي د لاندې ځانګړتیاوو لرونکي وي:
الف. د افغانستان تابعیت لرل؛
ب. عمر یې لږ تر لږه ۱۸ کاله وي؛
ج. د دندو د لایحې په تناسب د رسمي تحصیلي اسنادو شتون؛
د. د ورسپارل کېدونکې دندې په تناسب د معتبره کتبي تضمین وړاندې کول؛
ه. د جرمي سوابقو نه لرل؛
و. د هغه کارکوونکو لپاره چې له یوې میاشتې څخه ورسره کم قرارداد کیږي او هم د خدماتي پرسونل د ګمارنې په ترڅ کې د (ج) بند د تطبیق وړ نه دی.

(۲).د کميسيون دارالانشاء دې د ټاکنيزو کارکوونکو د ګمارنې د بهير په ترڅ کې د ګمارنې قانوني پړاوونه او د پوستونو د اعلانولو، د غوښتنليکونو په ترلاسه کولو، شارټ لېسټ کولو، ازمويني اخېستلو، مصاحبه کولو او په شرايطو برابر د بهترينو غوښتنليک ورکوونکو د انتخابولو په پړاوونو کې بشپړه روڼتيا په پام کې ونيسي.

## د سيمه ييزو ناظمانو ګمارل

**څلورمه ماده:**

۱. د سيمه ييزو ناظمانو په ګمارنه کې دې هڅه وشي چې د ښوونځينو ښوونکو ته لومړيتوب ورکړل شي.

۲. د سيمه ييزو ناظمانو د پوستونو د نوماندانو نوملړ دې د يوې ټاکلې مودې لپاره په اړونده ټاکنيزه حوزه کې وځړول شي او د رأى ورکونې په شرايطو برابر اتباع کولای شي چې د دوی په شرايطو د نابرابروالي په اړه خپلې نيوکې يا اعتراضونه وکړي.

۳. سيمه ييز ناظمين به د کميسيون په ولايتي دفتر کې د حاضرۍ تابع وي.

## د ګمارنې خنډونه

**پنځمه ماده:**

د ټاکنيزو کارکوونکو په توګه د لاندې کسانو ګمارل جواز نه لري:

۱. د سياسي ګوندونو مشران او غړي؛

۲. نوماندان؛

۳. د نوماندانو نسبي خپلوان (پلار، نيکه، مور، نيا، د ژوند ملګري يا ملګرې، زوی، لور، ورور، خور، کاکا، تروری، ماما، او ترور) او د نوماندانو سببي خپلوان (سخر، خواښې، د ښځې ورور يا اوښې، ښينه، ساندو، لېور او ايندرور) په اړونده ټاکنيزه حوزه کې؛

۴. د ټاکنو د دايمي کارکوونکو نژدې خپلوان (لومړۍ درجه)؛

۵. هغه کسان چې د ټاکنو کميسيونونو د دوی د تېروتنو او سرغړونو له امله، مظنون پېژندلي دي؛ او

۶. د ټاکنو کارکوونکي د خپلو ټولو اجراأتو او فعاليتونو ځواب ويونکي دي او حتی د رسمي دندو د پای ته رسېدو څخه وروسته هم، په هغه صورت کې چې کومه پوښتنه مطرح شي، ځواب ويونکي دي.

## د ګمارنې د بهير څارنه او کتنه

**شپږمه ماده:**

۱. د کميسيون دارالانشاء دې د کارکوونکو د ګمارنې په بهير کې د لازياتې روڼتيا په موخه د ولايتونو په کچه د ګمارنې د بهير د څارنې لپاره جدي تدابير په پام کې ونيسي.

۲. د ټاکنو په چارو کې اړوند بنسټونه چې د کميسيون له خوا يې باورليکونه ترلاسه کړي وي، کولای شي چې د ټاکنيزو کارکوونکو د ګمارنې له بهير څخه ليدنه وکړي.

## مسؤوليت او مواخذه

**اوومه ماده:**

۱. د ګمارنې په بهير کې هر ډول ناقانونه لاسوهنه ممنوع ده.

۲. د ټاکنيزو کارکوونکو د ګمارنې په بهير کې د دولتي اراکينو او د نفوذ د څښتنانو هر ډول اعمال نفوذ (لاسوهنه) ممنوع دی او د داسې ډول موضوع د څرګندېدو په صورت کې به اړونده مرجع ته خبر ورکول کيږي.

۳. په ټولو کچو د کارکوونکو د ګمارنې د څانګې مسؤولين، په دې لايحه کې د ټاکل شوو لارښوونو څخه د هر ډول سرغړونې او تېروتنې په اړه، مسؤوليت لري.

۴. د ټاکنيزو کارکوونکو له خوا د تېروتنې او سرغړونې په صورت کې، د کميسيون دارالانشاء کولای شي چې د کارکوونکي د ګوښه کولو، د تنخواه د نه اجراء کولو او که اړينه وي چې اړوندو مراجعو ته يې ورو پيژني، پرېکړه وکړي.

**<u>د ټاکنیزو کارکوونکو د چلند اصول</u>**

**اتمه ماده:**

د ټاکنو ټول کارکوونکي، وروسته له هغې چې د ګمارنې پړاوونه طی کړي، مکلف دي چې د ټاکنیزو کارکوونکو د چلند اصول لاسلیک او ورڅخه پیروي وکړي.

**<u>امتحاني دوره</u>**

**نـهمه ماده:**

۱. د کمیسیون دارالانشاء کولای شي چې د کارکوونکو د توانایي او کاري وړتیا د ارزونې په موخه د امتحاني دورې په نامه یوه موده وټاکي.

۲. د کار کوونکي د نه ګټورتیا او پکښې د وړتیا د نه شتون په صورت کې د کمیسیون دارالانشاء کولای شي چې نوموړې لنډ مهاله کارکوونکې له دندې ګوښه کړي.

**<u>د اجراأتو ارزونه</u>**

**لسمه ماده:**

۱. د کمیسیون دارالانشاء دي د ارزونې سیستم رامنځته کړي چې پربنسټ یې د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو اجراأت او کارونه وخت په وخت وارزول شي.

۲. په کمیسیون کې مکافات او مجازات د یوه اصل په توګه منل شوی او د تطبیق وړ دی.

**<u>بې پرېتوب</u>**

**یوولسمه ماده:**

۱. ټاکنیز کارکوونکي مکلف دي چې خپلې ورسپارل شوې دندې په بشپړ بې پرېتوب سره ترسره کړي او د خپلو دندو د ترسره کولو په ترڅ کې پرته له کمیسیونه، د اوامرو د لړۍ په پام کې نیولو سره، نه شي کولای چې په دې اړه له هیڅ یوه مقامه (دولتي یا غیږدولتي) لاربښوونه ترلاسه کړي.

۲. ټاکنیز کارکوونکي مخکښې له دې څخه چې خپلې دندې ترلاسه کړي، په لیکلي بڼه څنګه چې د کمیسیون له خوا ټاکل کیږي، رسماً ژمنه کوي چې د ټولو ټاکنیزو بهیرونو په ترڅ کې به خپلې ورسپارل شوې دندې په خورا ښه توګه، بشپړې ریښتینولۍ او امانتدارۍ سره ترسره کوي.

**<u>انفاذ</u>**

**دولسمه ماده:**

دغه لایحه تر تصویب وروسته نشر او نافذیږي.